**د مسؤليت د رفع کولو يادښت:** دا سند په غير رسمي شکل له يو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه يې د هيڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائيد شوې. کيدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص يا توپيرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱** **نېټه: ۳۰ / ۱ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائيه محکمو رياستونو محترمو منسوبينو ته!**

**السلام عليکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې محترمې عالي شورا په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئيس محترم الشيخ عبدالحکيم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو، د مرکزي ديوانونو رئيسانو، او د مرکزي قضايي رياستونو د رئيسانو په ګډون غونډه وکړه چې د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق د (۳مه) ګڼه تصويب په ترڅ کې يې د يو شمېر موضوعګانو په هکله پرېکړه وکړه چې د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شريک کړل شي. له همدې کبله، يادې موضوعګانې د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شريکې شوې چې يوولسمه موضوع يې په لاندې ډول وه:

((کله چې د اسلامي امارت په محکمو کې د يوې موضوع په هکله فيصله نهايي شي او د دعوې له طرفينو څخه يو طرف د تجديد نظر غوښتنې دعوی وکړي، د تجديد نظر غوښتنې موده څومره ده او کومې مرجعې ته عريضه وشي؟ په دې اړه له محترم عالي مقام څخه د هدايت غوښتونکي يو))

د افغانستان اسلامي امارت محترم عالي مقام د يوولسمه ګڼه فيصلې په هکله داسې هدايت وفرمايه: ((کله چې د اسلامي امارت په محکمو کې فيصله نهايي شي، د ابلاغ څخه وروسته دې د (۳) ورځو موده کې تميز تطبيق شي.

که د قضيې له طرفينو څخه يو طرف پر نهايي فيصله د تجديد نظر غوښتونکی وی، د تميز د ابلاغ وروسته دې د (۳) ورځو په موده کې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست ته عارض شي، د دارالانشاء عمومي رياست دې د استعلام له لارې د تجديد نظر غوښتونکي دليلونه غواړي او موضوع دې محترمې عالي شورا سره شريکه کړي، په پای کې دې وکتل شي چې آيا موضوع د تجديد نظر وړ ده او که نه؟

ستره محکمه دې د تجديد نظر موضوعګانو ته د لومړيتوب حق ورکړي او په يوه مياشت کې دې پای ته ورسوي.

دا سند د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکميت څارونکې ويبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ويبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

که د نهایي فیصلې قانع لوری د فیصلې د تطبیق غوښتونکی شي، په دې صورت دې د تمیز عالي ریاست د فیصلې د اجراء امر وکړي په دې شرط چې د فیصلې اجراء دې تر (۳) ورځو پورې معطل کړي او د افغانستان اسلامي امارت د عالي مقام د عرایضو دفتر ریاست او د دارالانشاء عمومي ریاست څخه دې معلومات وغوښتل شي چې آیا غیرقانع لوري د تجدید نظر غوښتنه کړې ده که نه؟

که د معلوماتو په پای کې جوته شوه چې غیرقانع لوري د تجدید نظر غوښتنه نه ده کړې، فیصله دې اجراء کړي.

او که د تجدید نظر غوښتنه شوې وه، په دې صورت کې دې د تجدید نظر پروسې پای ته رسېدو پورې د فیصلې اجراء وځنډول شي.

او که د تجدید نظر غوښتنه د پخوانۍ اداري پر فیصلو وي، د فیصلې تطبیق دې د تجدید نظر تر رد یا تایید پورې وځنډول شي.))

بناءً، د پورته یاد مجلس د یوولسمې موضوع په هکله د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.